# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



قاسم باز

۱۳ جولای ۲۰۱۷


## راه بیرون رفت و حل قضیه افغانستان !

*خوانندگان گرامی .*

*این بیانیه را بنده در سال ۱۹۹۵ در سیمینار بین الافغانی به نام (راه بیرون رفت و حل قضیه افغانستان) که در هوتل انترکانتنینتال پیشاور پاکستان از طرف ملل متحد به حضور داشت نمایندهٔ خاص آن سازمان آقای محمود مستری برگزار شده بود ایراد نمودم ، این بیانیهٔ بنده از طرف اعضای محترم آن سیمینار با چک چک های متواتر استقبال گردید. چون جریانات و وقایع کشور تا به حال به عین منوال به کمکی تغییرات به پیش می رود خواستم آن بیانیهٔ خود را که در جمع کثیر وطنداران خود ایراد نموده بودم بعد از ۲۲ سال با هموطنان خود شریک سازم. امید وارم مورد دلچسپی هموطنان قرار گیرد. باید خاطر نشان سازم که این بیانیه در همان سال در مجلهٔ ... که توسط محترم آقای امان الله رسول در پیشاور پاکستان به نشر می رسید به چاپ رسیده.*

++++++++++++++

قاسم باز، سال ۱۹۹۵ پیشاور پاکستان.

بسم الله الرحمن الرحیم.

چا پــه وخــت د زنکدن ووی مجنون ته وخت نازک دی په خوله یاد ولره خدای

ده ویل زړه می د لیلی د مینــی ډک دی پــه کښــی نشتــه دی د نورو یادو ځای.

( خوشحال خان خټک )

گرانو هیوادوالو او په دی سیمینار کښی محترمو گډونوالو.

د اجتماعی علوم ځنی پوهان په دی عقیده دی او وایی چی ، جنگ په دوه ډوله دی . یو عادلانه او بل غیر عادلانه ، ددی مقولی پر بنیاد د روس سره د افغان ولس جهاد یو عادلانه جنگ دی، ځکه چی روسانو د افغان ولس په ملی حریم تجاوز کړی او دوی غوښتل چی زموږ ملی فرهنگ، زموږ استقلال نابود او له منځه یوسی. اما د تیرو څو

کالو په اوږدو کښې په افغانستان کښې تنظیمی جنګونه غیر عادلانه جنګونه دی ځکه چی د جنګ دواړه خواوی د افغان بچیان، د یوه دین او ایین پیروان دی.

محترمو حضارو ښاغلو او اغلو.

په افغانستان کی اوسنی جنګسالاران په دی پوهیږی چی دوی د افغانستان د خپلواکی لپاره نه بلکی د پردو په لمسون او د خپلو شخصی جیبو د ډکولو لپاره جګړه کوی، افغانان وژنی، ښارونه ورانوی او د افغانستان سیاسی استقلال د خاوری تمامیت ته په ملی او بین المللی سطحه زیان رسوی.

محترمو حضارو.

زما ښه په یاد دی چی په کال ۱۹۹۲ ع کښی د ملګرو ملتونو د سازمان په عمومی غونډه کښی چی د ملګرو ملتونو استازی بی ننسیوان د امریکی د هاغه وخت په نماینده ښاغلی پیتر تامسن تور و لګاوه او ویی ویل چی زما د صلحی د پروسی اصلی ناکام کوونکی دا ښاغلی دی.

ګرانو ورونو او خویندو.

ټول افغانان په دی ښه پوهیږی چی په افغانستان کی د جنګ اصلی محرکین څوک دی، خو هاغه د پیشو او موږکانو خبره ده، اصل حقیقت دادی چی د سولی پروسه یوازی د جنګیدونکو ډلو د تفاهم په واسطه منځ ته نشی راتلای بلکه د صلحی د عمومی پروسی په راوستلو کی یو مهم اقدام ګڼل کیدای شی. د دایمی سولی په خاطر دی ته اړتیا ده چی نه یوازی پخوانی جهادی تنظیمی مشران بلکی نور مهم ملی شخصیتونه تکنوکراتان او متخصصین هم په داسی پروسو کی ګډون و کړی. تر څو داسی یو نظام را منځ ته شی چی په خپله هغه نظام د سولی د پروسی تضمین کوونکی وی او په دی ترتیب د ملت اعتماد ورسره وی.

دافغانستان د اوسنی لانجی د حل په باره کی باید د یوی معقولی لاری کار واخستل شی ، په دی معنی چی ملی ګټی د شخصی او تنظمی ګټو څخه پورته و ګڼل شی.

لویه جرګه د شریعیت مطابق عمل دی او باید ټولی جګړه ماری ډلی د ملت د تمثیل په خاطر لوی جرګی ته غاړه کیږدی. په اوسنی وخت کی د جګړی یوه خوا په سیاسی اړخ او بله خوا په نظامی اړخ ټینګار کوی. خو باید هاغه خوا چی په نظامی اړخ ټینګار کوی وویل شی چی نظامی حل عادلانه حل نه دی.

سیاسی سوله ایز حل ګټی لری، که چیری د افغانستان روانه شخړه د سیاسی اړخ له لاری حل شی په یقینی ډول سره ویلای شم چی د افغانانو سره د خارجی هیوادو همدردی زیاتیږی او ممکن د افغانستان د بیا جوړیدو لپاره ډیری مرستی تر لاسه شی.

په هیواد کی د امنیت ټینګیدل یو حتمی او ضروری کار دی اما یوازی امنیت د خلکو لپاره د قناعت وړ نه دی په دی وخت او زمان کی خلک له خپل حکومت څخه دا توقع لری چی د معارف، صحت مسکن او کار لپاره مناسب شرایط او امکانات برابر شی.

حکومت کول او حکومت داری با کفایته، با تجربه ، پوهو او مسلکی اشخاصو ته ضرورت لری. نه څو جنګی جنګ سالارانو او نه څو تش په نامه علماو ته. داسی سوله چی هغه د افغانستان د تجزیی سبب وګرځی هیڅ افغان ته د منلو وړ نه ده، وطن دوسته افغانان په افغانستان کی واقعی سوله غواړی، داسی سوله چی په هغی کی د ټولو قومونو او ږګنو حقوق و ساتل شی، زما په نظر حقوق به ددی معنی و نه لری چی اکثریت او اقلیت دی یو شان امتیازات تر لاسه کړی، په واقعی سوله کی زیاتو ته زیاته برخه او لږو ته لږه برخه ور کړل شی.

محترمو خویندو او ورونو.

نړیوال باید سوله غوښتونکی افغانستان ته د دوست په سترګه وګوری، دوی دی، د دی هیواد اصلی وارثین د پردو د نوکرانو، جاه طلبانو ، له صف څخه بیل و پیژنی او خپلی بشری او سوله ایزی مرستی او ښی اړیکی دی همدغو اصیلو او غم ځپلو او د هیواد په درد دردمنو افغانانو سره جاری وساتی.
افغان ولس لکه څنګه چی په پخوانیو وختو کی د بشر د حقوقو څخه په بشپړه توګه ملاتړ کړی اوس دا خپل حق بولی چی جهانی ټولنه باید د دوی د حقوقو څخه په بین المللی سویه دفاع و کړی.
افغان ملت د خپل سرنوشت د ټاکلو او د خارجی هیوادو د مستقیم او غیر مستقیمی لاس وهنی څخه د خلاصیدو په خاطر په جهانی ټولنه غږ کوی چی په دی حقه لاره کی د افغان ولس سره هر اړخیزه همکاری و کړی. د خلکو د نورو اساسی حقوقو په جمله کی د سرنوشت د ټاکلو د حق خود ارادیت، انسانی کرامت ته په احترام خپله وجیبه تر سره کړی. همدارنګه جهانی ټولنه ایمانی او وجدانی دنده لری چی په افغانستان کی د سولی د ژر راوستلو لپاره عملی لاری چاری و لټوی او افغانان ددی ستر مشکل څخه خلاص کړی.
تر اوسه کوم مشکل چی د افغانستان ملت د هغی سره لاس او ګریبان او تر اوسه روانه جګړه یا ملی تراژیدی یی لا اوږده کړی ده په افغانستان کی د یوه واقعی با درده لیډرشیپ محور دی، تر څو چی ملی لیډرشیپ ملی محور د خپل کار او فغالیت د پاره او خطر قبول نکړی د سولی راوستل به اسانه خبره نه وی. زما په نظر تر څو چی د سولی سپین کوتری هاغه کوتری چی زمونږ د ملک څخه تللی دی بیرته رانشی سوله راوستل به ګران کار وی. وسلام ستاسی د توجو څخه زیاته مننه
قاسم باز
په امریکا کی د تساند او همبستګی د انجمن د اجتماعی روابطو د کمیتی مسول.



از طرف راست به چپ:
۱- محترم جنرال عبدالحکیم کتوازی، ۲- جناب سید اسحاق ګیلانی، ۳- جناب سردار سلطان محمد غازی، ۴- جناب پوهاند اصغرخان، ۵- جناب امان الله رسول، ۶- برادر قوماندان حاجی زمان ننګرهار، ۷- دوست قوماندان. عقب : ، ۸- داکتر کریم باز، ۹- ریس غلام محمد.

عکس از قاسم باز، در منزل داکتر کریم باز، پیشاور پاکستان سال ۱۹۹۵ بعد از ختم سیمینار گرفته شده.




از راست به چپ:

۱- قاسم باز ، ۲- پوهاند اصغرخان، ۳- جنرال عبدالحکیم کتوازی.

در روز سیمینار ( راه بیرون رفت قضیه افغانستان ) در داخل هوتل انترکانتنینتال پیشاور پاکستان.

۲۰۱۷/۰۷/۱۲

***یادداشت:***

*به نظر ما اصل احترام به حق دیگران بیشتر از آن که یک مسألهٔ کمی باشد تا در ترازوی سنجش کمیت ها قابل توزین باشد، یک مسألهٔ کیفی است. حق، حق است می خواهد مال کم باشد و یا زیاد. به صورت مثال، فیل باشد و یا مورچه، هر دو یکسان حق حیات دارند، هیچ کس و هیچ قوم و یا نهادی حق ندارد، در پناه اکثریت قسماً موهوم آنهم در کشوری مانند افغانستان که هیچ گاهی احصائیهٔ درست و دقیق نداشته و تمام احصائیه ها بر اساس تخمین و به منظور تحقق خواستهای سرکاری و یا تأمین منافع این خان و یا آن ملک اعلام شده است، با برتری قایل شدن به خود، در عمل حقوق سایر اقوام را زیر پای نماید.*

*ادارهٔ پورتال AA-AA*